د افغانستان بانک

د بانکي څارنې او مالي خدماتو لوی آمریت

مقرراتي معاونیت

نېټه ۸ / ۱۱ / ۱۴۴۷

ګڼه: ۱۸۰۸۶

۱۷۴۳۶ / ۱۴۱۷۰

۱۷۱۷۸ / ۱۴۱۷۱

بسم الله الرحمن الرحیم

**ټولو قدرمنو مجوزو بانکونو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

**موضوع: د امریکایي ډالرو د قبلولو او د وړو بانکنوټونو او سکو د پروسې د عملي کولو په اړه**

له ډېر درناوي وروسته؛

د دې ادارې د ۲۹۹۲ ګڼې د ۱۳۹۳/۷/۲۹ نېټې او د ۱۱۴۴۹ ګڼې د ۱۴۴۶/۹/۲۷ نېټې متحدالمالونو په تعقیب لیکل کېږي:

په بانکي سکټور کې هیوادوالو ته د آسانتیاوو د برابرولو او د غوره بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه یو ځل بیا تاسو ته لارښوونه کېږي چې د امریکایي ډالرو د قبلولو په اړه د دې ادارې د ۱۱۴۴۹ ګڼې د ۱۴۴۶/۹/۲۷ نېټې متحدالمال سطابق کړنې ترسره کړې او هغه امریکایي ډالر چې زاړه او مندرس شوي نه وي او د ۱۹۹۶ میلادي کلونو راپدېخوا چاپ او په پورته متحدالمال کې د ذکر شویو مشخصاتو لرونکي نه وي، د چلند وړ دي او په ټولو بانکونو کې د قبلولو وړ دي.

همدارنګه د وړو پیسو (۱،۲ او ۵) بانکنوټونو او سکو د منلو پروسه دې له څنډ پرته عملي شروع او د یادو پیسو په اخیستلو کې دې د هر ډول څنډ او څنډ مخنیوی وشي او په ټولو تحویلیو او توزیع ګانو کې دې د یادو پیسو څخه استفاده وشي.

پدې اساس ټولو مجوزو بانکونو ته لارښوونه کېږي چې په خپل ورځني چارو کې پورته ذکر شوي موارد په پام کې ونیسئ.

د افغانستان بانک د وخت څخه په ګټې اخیستنې ستاسو د بریاوو غوښتونکی دی. **والسلام**

**نور احمد آغا**

**د افغانستان بانک د ټولو رئیس**

۱۴۴۷/۱۱/۸

کاپي:

- د افغانستان د بانکونو قدرمنې ټولنې ته
- د بانکي عملیاتو قدرمن لوی آمریت ته
- د غیر بانکي مالي مؤسساتو د څارنې قدرمن لوی آمریت ته